# د سبرونو نڅا

(اتم شعري غونډ)

## پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار

{{هغه کتابونه چې سمسور ووېبپاڼې پرليکه کړې او يا يې پر ليکه کوي،نور څوک
يې پر ليکه کول اجازه نه لري}}

www.samsoor.com

# پرېږدئ چې لمر وخلي

پرېږدئ

چې لمر وخلي

پرېږدئ

چې لمر وخلي...

پرېږدئ يې چې وړانګو ته،

زمولې غوټۍ وخاندي . .

پرېږدئ

چې لمر وخلي

پريږدئ

چې لمر وخلي !!!

*  *  *

پرې،

چې دلمرينو پلوشو باران

ساپو کړي په غرونو او رغونو کې

وبهوي اوښکې

د کنګل واورو

وچلوي ژوند په مړو رګونو کې

یون او خوځون را ولي،

نوی ژوندون را ولي . . .

پربېږدئ،

چې لمر وځلي

پربېږدئ

چې لمر وځلي !!!

*　　*　　*

پرې،

چې سیندنی ځپې

مستې ژوندنی ځپې

وبولي د ژوند نغمې

شاړو وچو د ښتو،

چمنونو ته

مړ اوو بنحرو

او ګلکځونو ته

سیال شي بیا د ګلو جوړ،

شور پرې د بلبلو جوړ . . .

پرېږدئ

چې لمر وځلي

پرېږدئ

چې لمر وځلي !!!

* * *

پرېږدئ

چې د شپې اوښکې

وڅاڅي پر مخ

د سباوون دلته

پرخه شي او وځېږي په تال

د طلا یې شغلو

هسکې د لمر سیمې ته...

شیند پر شیند هر خواته

د لمر وړانګې شي

ډکې له مېوو د ونو څانګې شي ،

رنگ واخلي او خوند واخلي

و مومي بيا ژوند نوی ...

پربېږدئ چې لمر وځلي

پربېږدئ چې لمر وځلي...

پربېږدئ يې چې وړانگو ته،

زمولې غوټۍ وخاندي . .

پربېږدئ

چې لمر وځلي

پريږدئ چې لمر وځلي !!!

۱ـ ۱۰ ـ ۲۷

# ځېړۍ

زه هماغه غرنۍ کلکه ځېړۍ یم

بې پروا له باد بارانه

ږلۍ واورې او توپانه . . .

غځېدلې مې دي جرړې

-لکه پلې رګونه-

کښته په ژورو کې د پرښو

اوښاخونه مې له ښاخه . . .

-نه له نیاز و له فریاده-

داسمان پر لورې پورته . . .

-...-

زه هماغه غرنۍ زړه ځېړۍ یم

چې له تکو تندرونو ،

له لمبو لمبو اورونو

یم راوتې روغه رمې او سر لوړې

په شنو پاڼو څانګو ښرانګو او اغزیو

ښکارندوی د تلښېر ازه پسرلې

اوبې مرګۍ یم .

۲۹-۴-۱۴

## بهاند بهیرونه

هغه له راکېوته

له کلي د اسمان د ښایست

لکه سپوږمۍ د پلوشو پر وربښمین تال

زما د مینې پر بام

او ورونړلې یې زما د بې سهاره اوږدو شپو

د تور تمونو کوڅې

نورې به توږې خپلې اوښکې نه کړم

-لکه نیمزالې شمه-

د ویر ژړلو نهیلیو

د تیارو پر لمن

زه نګېرم په هډو پلو

هغه لمرینه رڼا ،

آد سپېڅلي پاک ارمان

جاویداني تودوخه

چې بدلوي زما د برم

د وړانګینې اړخونه

زما د مینې د سبا د لمرین ښار د پلوشو

له تلبهاندو بهیرونو سره .

۲۰-۴-۲۹

# دلمر اورتون

مه شه،

چې رود د کهکشان کړي غلی

د اهورا د هسک د لمر پاک و سپېڅلی

تلبلاندی اورتون

او دا د ځمکې ټول پاک زړي

مومنان اور پېښتي

وسولوي له نهیلیه خپل تندي

دزره توشت د مړو نغرو

پرخوګلنونو باندې.

*        *        *

پربېړده،

لمبې د بېزواله اګني

لکه سر کښبی قهرژلي اورشیند،

چې تک تورکاني له یو مخې

پرویلوب بدلوي

تور تيپي خيري د دايوا دګناهونو

واړه وسوځوي

او کړي خپاره بيرته وازره

-لکه د خدای د لورېينې د جنت پربنتی-

دا هوار د سپېڅلتيا د تلبهاندې سرچينې

داسمانونو د ستونځونو پر لور !

۲۹-۵-۱۰

## تور وسره

څه بې توپیره د بد وردي زماني

د ناکردو پر وړاندي ،

په غړولو ستر ګو ګورو ورته

چي کړي زموږ پر برخلیکونو لوبي

او زموږ سپیني تښتېدلي ورته

*　　*　　*

څه کوډي وشوي پر موږ

چي له خپل سیوري نه هم ویره لرو ؟

ولي دي اوسو هسي ،

له خپله ځانه پردي ؟

ولي دي اوسو هسي،

بېواک بېوسي پاتي ؟

*　　*　　*

که څوک جلاد موږه

پردار خېژوي،

نو له خپل ځان سره رسی

له خپله کوره وروړو

او که ژوندي مو بيا پر گور ورمنډي،

نو ورکېنو يې موږ په خپلو لاسو!

*　　*　　*

څو به مو غوږنې ښکاروي «تور لېوان»

او پاتې شونې وچ هډونه مودې

«سره درنگه خور» شپيلوي!

هغوی دتېر مهال «تور مخي دېوان»

او دوي د نوي پېر «سورمخي پېريان»!

۱۳ - ۵ - ۶۹

## دریا څادر

د دې اسمان په شنه نیلي څادر

ومه غولېږئ . . .

داسې شپه نشته

چې د بې شمېرو رڼو ستورو وینې

توی نه کاندې

او

-د شفق په نامه -

پرې خپل لاسونه تر څنګلو پورې

ونه لړي!

* * *

د دې اسمان په شنه نیلي څادر و مه غولېږئ . . .

داسې شپه نشته

چې له سکڼلي تور تیاره ماښام یې

بیا تر شنې خړې د ګهیځه پورې

په دې زرینو نور شیندونکو

الوتونکو پسې

-د تورتمو د رڼاوي په جرم يې-

يو پر يوه له تېره تېغ د مرګ

اېستلی نه وي .

*　　*　　*

د دې اسمان په شنه نيلي ښادر ومه غولېږئ

چې رڼا ورځ شي

او لمر وځلېږي

دوي

.دښمنځچارو رياکارو غوندې .

د خپلو تورو ګناهو د پټولو په نيت

په دې تک شنه نيلي ښادر کې

ځان راونغاړي بيا . . .

د دې اسمان په شنه نيلي ښادر ومه غولېږئ

چې پکې نغښتې سرې رتې

د بېګناهو توېې شوو وينو.

۱۱ـ۷ـ۶۹

# منګنې شپې

راځي ورو ورو

سړې سړې

سترې ستومانه منګنۍ شپې . . .

دا د پاڼرېژ استازي ،

دا نابللې مېلمنې د چمن.

*　　*　　*

زړه مې د باغ پر ناوکيو سوځي

چې پر ناموس د ښېرازۍ يې

توند بادونه بلوسي

د دنګو دنګو سپېدارو

زېړې زبېښلې پاڼې

رېږي او رژي تر مې ترمې

له تاړاک د منګنيو ربړو

او را تويېږي دنېستۍ

پر تورو خاورو باندې .

*          *          *

راځي ورو ورو

سرې سرې

سترې ستومانه منګنۍ شيبې . . .

خو،

په خزان زمولي سره ګلبڼ

زما د مينې کې لا

ستا د يادونو د لمرينو

پلوشو پسرلی

راټوکوي تک سره بامي، رېدي، لاله ګلونه .

۱۵ـ ۷ـ ۶۹

# حج

ستا د ښکلا د نازښکالو

په زمزمي چينه کې

لامبي زما د پاکې مينې د شعر ښکلې حورې

چې د کعبې د سپېڅلتيا

د لمر د خدای د نمنځ طواف په نيت

احرام و تړي.

*  *  *

پر پړده،

ـ د خدای په کور کې ـ

زما د شعر دغه سپېڅلې

مينه وړې حورې

د سر په سترګو له نژدې وګورې

چې د ببلارو ‹‹ امتيانو ››

د تور تپو ګناهو له اغېز

د ‹‹ اسود ›› تيره هسې نوره هم

توربړې پسې.

*   *   *

پرېږده

زما د جنتي مينې د شعر پر تمينې حورې

هلته ور وړاندې د (( مينا ))

په پښو کې

ننداره وکړی د جمرو د کاڼو

-آ د سجيل د سرو سکروټو کاڼو -

له هرې لورې چې راووري هسې

پر تورو دربلو شيطاني ارواوو.

*   *   *

پرېږده

زما د خليلي مينې د شعر نازولې حورې

کړي د لوي خدای په پاک سپېڅلي

جنتي حرم کې

په انګازو کې د (( تکبير )) او د (( لبيک )) د نارو

داخپل ځانونه د روږ،

دا خپل ځانونه قربان !

۲۳ـ۷ـ ۶۹

## داوښکو پرتم

وسپړل زما د ژوبل زخمي زړه

پـه نارنج باغ کې

د ځلمیو هوسو د پرهرونو

سوو څړیکو

ستا د پیغلو تلوسو

د سرکو شونډو ګلګخونه

او زما د خاخکو خاخکو

ستورو اوښکو

له پرتمه. . .

ستا د هسک له تیږی ذهنه

شوه د لمر چینه بهانده .

-...-

اخ،

چي څومره سپرلنۍ ښکلي

رنگېنې شان شېبې

زما او ستا د خزان زمولې

ګډې مينې

له ور بويه هسې لېږدي

بې اغېزې،

دنېستۍ د نشت اباد د دشت پر لوري !

۱۲ـ ۸ ـ ۶۹

## رودونه او بریدونه

دومره اوښکو،

دومره وینو

کړ بهاند زما او ستا ترمنځ

لوی سیند د بېلتانه

چې کړو بېل یې یو له بله

او د یوبل د لیدلو په ارمان.

*　　*　　*

هو کې،

زه او ته جلا شو په بهاو د اوښکو وینو

یو له بله

او را وکښله زما او ستا ترمنځ یې

یوه بېلنده سره پوله . . .

اوس نو ما او تا ته پاتې دي یوازې

تشې پلې او وچ هډونه

چې یو پول کړو ځنې جوړ

پردې سیند د اوښکو وینو

پردې پوله زما او ستا د بېلتانه . . .

او په دې توگه نور پاک کړو

تر دامنځه واټنونه،

له تاریخ سره مو نور

دغه رودونه او برېدونه !

## دالوت په تکل

دغه څه وشول اسمانه !

چې دا ستا په شنه ورشو کې

گلکخونه د سپېدو په وینو

رنگ شول

اود لمر د ښار پر لورې

قافلې د سهار لوټ شوې ؟

هرې خواته بس د ستورو

جنازې دي

چې د وینو د څپو پر اوږو لېږدي

تور تیاره او ساړه زغومي

د نېستۍ ته.

*          *          *

دغه څه وشول

په ځمکې!

چې داستا په وېره غېږ کې

جلو هلي وچ ډاگونه،

تور و گور و شنه ځنگلونه،

مست څپاند سمندرونه...

هسې ډوب او ترې تم شول

لکه ونغري له مخې

نهنگان دغرځپود توپانونو

له سپرلو ډکه بېړۍ.

*          *          *

په زما د سپین سپېڅلي نور پنځلي سباوون

دباور شعره!

نور د ژغور د هسکو ستونځو د الوت په تکل

پرانیزه داخپل مړاوي ځانګونه

او له ځان سره ما هسک کړه

له دې مرې خاورینې ځمکې ،

له دې مړه ډبرین هسکه

دلمرونو یوې نوې ښایسته ښکلې نړۍ ته!

۹ ـ ۹ ـ ۶۹

## سر وور

ستا دمىَنې د گلبڼ د پسرلي

په پسته غبږ کې

ما د مینې د ناتار د نیمو شپو

ویرونه هېر کړل .

نور به وسپړي

غوټۍ غوټۍ سرې وینې

دبلهارو هدیرو مې

ستا دناز ښکلا د ناوې د ډولۍ

سر وور لپاره .

*　　*　　*

ماته مه راوړه پیغام

د سبا ورکو تورو شپو نور،

یوسه نور زما سلام

دخونړیو تورو وریځو

ترغرو هسک د هسک پر لورې

د لمرينو سپينو وړانګو

د سپېڅلي پاک مزدک تر عرشه پورې !

ننګرهار ، ۲۲ـ ۹ـ ۶۹

## څانګغوڅ بلبلان

هسې راوستم بېوا که

منګنۍ سرې سيلۍ

ـ لکه بنهکه .

تر سپېرې دېرې د خاورو

ستا دوران کلي کوڅې ،

د تالا وا لا باغچو

د سرپرېکړو لوخ لپړو ونو بوټو

د چوپتياوو تر وربويه

راځي غوږ ته د لار ورکو تلوسو

سوي سوي زګېروي ساندې

له غربو نيولي کومي

د نا پایو تور تمونو.

*　*　*

داسمان د لاجوردي شینکۍ لمنې

په ورشو کې

تندرونه دي را ګډ د بوږ نوږو

تورو وریځو . . .

بس همدا د ویر کیسې دي

تل بهاندې د دې غرونو او سیندونو

دفریاد فریاد پر ژبه

چې ترڅو به ګلیونونه وي

په برخه د کارغانو

او په ویر ګډې ګلپېغلې

د ځانګغوڅو بلبلانو !

ننګرهار ۲۷ ـ ۹ ـ ۶۹

# پيلامه

یوه غلې شان سلګۍ راځي

ورو ورو

-لکه لمر خيره-

د سپېدو د ګلکخونو

پر زخمي ژوبلو څانګونو د شپبو

ترخه موسم

دتیارې شپې د ځنګله د مرې چوپتیا

له ژور کومې.

*     *     *

په ساړه سمخ خوګلن د مړو ایرو کې

د وختونو د ستي سوو نغمو

اخلي ساه یوه نیمزالي

مینه ورې شان تودوخه.

*     *     *

په رګو د وچکالۍ سیلۍ وهلو

ګلبڼو کې

پیلامه د نوي ژوند د تږکېدلو

لکه وینه د باران د ښېرازۍ د پسرلي

په چلېدو ده.

*　　*　　*

یوه انګۍ د ویر فریاد د غره

په زړه کې

خپروي نوي د ژغور د برم ځانګونه...

لکه ربنه دالوت د وزرونو

د ښاخمن ګور بت دپاروپامیزاد!

ننګرهار، ۱-۱۰-۶۹

# ګډه مینه

ستا د ښنو خاورو له عطرو

را زرغون زما د ژوند ټول پسرلي شول

او د استا داننګیو له سرو ګلو

زما مړاوی ترمې ترمې رژېدلی زړه

باغ باغ . . .

اوس نو پرېږده

چې را وورې دا عطرونه اوګلونه

. په ملتیا د لمر د وړانګو .

پر وربوی د سپېڅلتیا د سباوون

زما اوستا د ګډې میني

تل لپاره !

ننګرهار، ۵ -۱۰ - ۶۹

# خوب

ستا د گل بدن له عطرو

پر پاسته وربښمين پالنگ ستا د سينې وم

مست بېسده خوبولی

له ماښامه تر سهاره . . .

ترڅو ،

ستا د لمر ښايست زرينو وړانگو

ستاد گل مخ سباوون په رڼو پرخو

له درانه خوبه راويښ کړم

اوشوې هله مې روڼې خوبوړې سترگې

په تلپاتې تورتم روڼو رڼا گانو .

۲۲ـ۱۰ـ۶۹

## منښت

لکه خزان زموللي پاڼه ،

راپرېوتي د نیستۍ پر تورو خاورو.

لکه د یار په نوم اوښلي غونچه

چې د ریبار په لاس کې

ترمې ترمې ورژېږي

لکه کوبۍ د زړه چا ودون له وېري

برخلیک یې بار د سمندر پر څپو

لکه یو ماته بې ماڼو او بې ګودره

لاهو شوې بېړۍ

په مړ څپانو څپانو کې راښکېل .

لکه چاودلي سیپۍ

چې مرغلره یې په هار کې کله نه شي

د پیپلو جوګه .

لکه د تورې شپې له سترګو

څڅېدلي اوښکه

دسپین سپېڅلي سباوون پر ګرېوان.

لکه د لمر د پلوشو په پښو کې

د کنګل واورو له لپمو

رابهېدلې اوښکه.

لکه د نیمو شپو لار ورکی پردېس

چې هېڅ پوهېږي نه ،

څه وکړي

او پر کومه ولاړ شي.

لکه له ګورته الوتلی غشی

چې نه پر موخه لګي

او نه جاروځي بیرته.

لکه نیمګړی یو خوب

چې یې مانا تعبیر کېدلای نه شي.

لکه د شګو پرمخ

شي په بهیر کې د سیلیو د پښو پل

چېرې وران.

لکه یو ووړ اوراورکې چې کله

دشپې په تور ځنګله کې

لار ورکه کړي.

لکه ورېمه د بېدياني ګلونو

چې شي په غېږ د بړبکو کې زندۍ.

لکه څانګغوڅ خاچونې

چې په اسره د سرو ګلونو يې

په ستوني کې نغمې وچې شي.

لکه اور پښتې وزر سوی پتنګ

چې تر لمبو نور کړېدلای نه شي.

لکه نيمزالې ويلې شوې شمه

وهي روستۍ وړې سلګۍ د ژوندون.

يا لکه هغه شپه رونلي ستوري

چې له لمرخوک سره ځلاو بايلي.

لکه د زېړې زرغونې رنګين تال

چې په توپان کې شي له سترګو پنا.

لکه نغاړلې يو ليک

چې چا پرانېستی او لوستلی نه وي.

لکه سرود د نيمه خواوو پرخوله

چې یو نیمژوانده ګونګوسی غوندې شي

لکه د چا د ناز د پلونو

مینه وړې ښکالو

چې په ارمان د اوربدویې

مین زړونه رپي.

لکه د وصل لنډه تنګه شپېه

چې ډېر رازونه شي په زړو کې د مینو

نا ویلي پاتې.

یا په ګوګل کې یو مین

بېلتون ځپلی زړګی

چې شي راتلو ته دمینې

سانیولي پاتې.

یا دویرژلو غرېو نیولی فریاد

چې د لوی خدای تر عرشه ونه رسي . . .

هسې یم زه ستا تر وربویه

نیمه خوا راغلی

اوس نو دې خوښه چې منې مې ،

که نه ؟

ننګرهار، ۱۹ـ۱۱ـ ۶۹

## زما شعر

شعر زما د ولولو په مرغلين کې

دی پېيلی ،

دا د احساس په تول و تال تللی .

...-...

دغه زما د زړه له کومې را وتلی اواز،

دغه زما د ګوګل سوې څړيکه

دا مې د رزم و بزم،

دا مې د مينې او ښکلا ستايوال ...

دامې د درد او د خوښۍ ښکارندوي

دامې د کرکې وينې مينې

يو رښتينی انځور.

###

دامې د زړه او ذهن،

دامې د روح او د روان

یوه رڼه هینداره...

دامې داند ،

دامې د ژوند ،

دامې د سول و سوچ وخیال

یوه ویانده ژبه،

دا دمهال او چاپېریال یوه اورینه ژبه .

###

زه د خپل شعر په نازکو گوتو ،

دسپوږمۍ ستورو له زرینو وړانگو

دچا وربل لره پېیوي اوبم...

زه د خپل شعر د پسرلي په وږمو

راټوکوم د چا شهید له سرکو وینو

سره لاله گلونه .

###

زه مې د شعر د نسیم پر اوږو

سترګي پر لار بلبل ته ،

د ګلغوټۍ د ناسپړلي زړه

پیغام لېږدوم ...

زما د شعر په وربښمینو پلو رګونوکې ده

وینه د ژوند وښېرازۍ او

د باور بهانده.

###

زما ژمن او استازګری شعر،

دا مې په تار د اسوېلو او زګېروو

د وینو اوښکو

یو غړلی امېل ...

دامې د سوزو د ساز،

دامې د رازو د نیاز،

دا د اوږدو اوږدو خوبونو تعبیر .

###

دا دبې شمېرو وېر ژړلو وېرنتلو ساندې ،

دا دپېړیو د نا پایو ګونګوسیو فریاد...

دا رسا غږ د پرېکړ شوو ژبو ،

دغه شور زوږ دزندۍ شوو ،

غرېو نيولو ستونو .

###

دغه د تورو تيارو ګورنډو رڼا ،

دا دتيارو تورو کوډلو ځلا ...

دا د برخليک د ګناهګارو لا ربه ،

دا د سبا د سره ګلبڼ د ټوکېدلو زېرى،

دا دپاکزړو د ايمان ، رښتينولۍ انګازه.

###

دغه د حق و حقيقت د لمر

وړانګينه جلوه . . .

دغه زما او د ټولني د وجدان ګډ اواز ،

دغه د غم او د سرور

يو بې انجامه اغاز!

ننګرهار ۲۲ـ۱۱ـ ۶۹

## زما ښکلی کونړه

يه زما ښکلی کونړه،

يه زما ښايسته ارمه ،

يه زما د زړه ارامه !

*        *        *

نه يې ،

نه يې،

ته د خوراړو تاپو ،

چې له وداني ودانۍ ځنې وي

گوښی پاتې...

ته هماغه مرغلره يې گرانبيه ،

راوتلې له سيپۍ زما دزړه نه!

*        *        *

ته زما له زمول گلبڼه

جلا شوې گلغوټۍ يې ،

ته زما له ژوبل پژي نه پرې شوی

يو اندام يې ...

ته زما له دړې وړې او ټوټې ببړۍ

بېل شوی هغه سکام یې

چې بې تا مې نه رغېږي!

*　　*　　*

ته زما له سرو لېمو یې څڅېدلې

یوه اوښکه،

ته زما د سترګو کسی ...

ته زما د سر له خوله را پرېوتی

یو ځلانده تک سور لال یې...

بوږ نوړی تور ښامار د بربریت

هسې نغرلی!

*　　*　　*

ته زما د برم دهسک یې

نوراني سپینه سپوږمۍ،

دبوږنوونکو تورو بڼو

په کوهي کې ډوبه شوې...

ته زما له ستر تاریخه

ببیله شوې یوه پانه،

ته زما د لوی کاله د دېواله له قاب

پربوتی یو انځور یې!

*       *       *

زه دې وینم ،

رابهېرې له (( راسا )) دې

سیند د اوښکو رنوبیو ،

پر ګرېوان باندې مخ کښېنته

له کرهالې تر ورسکه...

د پېړی د تورتمونو د تور آس

تر سوو لاندې

یوه لتاړه جغرافیا یې...

یو مروړلی شان بر خلیک،

یو بلهار د منځمهالو ګروه پلتنو

او د وخت د صلیبي مخامختیاوو!

*       *       *

ته د (( سره )) او (( تور )) وحشت ،

## ناتار د ژرندي

د دووپلو په منځ کې دله ربنتينواله

چې مرګ پاڼه ده د دواړو

ستا په خپل لاس لاسليک شوې...

نه نه ،

نه شي ،

هېڅ يو ځواک تا نشتو لای،

نه دې مانه بېلولای!

*  *  *

هو ،

زه اورم لا درزا د زخمي زړه ستا ،

لابهانده په رګو کې دې د پڼي د ژوند وينه . . .

خپسکه د زندۍ که

را پربوتې پرسينه دې

که يې ناست د مرګ پر پوله

او نيولی په ورغوي کې خپل سر ،

خو بيا هم ورکړې تا مرګ لره ماتې !

*        *        *

تا کفن پر ځان رانغښتی

او دانګلي دې د وینو سمندر ته . . .

خو په یاد لره چې وخته

لا د لمر دا هورا په تېره توره

اهریمن دی سر خوړلی

چې يې تا لره نیولی وو پټونی ،

اوس هغه را پرځېدلی د نیستۍ پر تورو خاورو !

تا ایستلې ده لا وخته ژغور ببرۍ

له خپلو وینو رازرغونو ګلکڅو ته !

یه زما ښکلی کونړه

یه زما ښکلی ارمه ،

یه زما د زړه ارامه !

ننګرهار ۳ـ۱۲ـ ۶۹

## د اوښکو رڼوب

د مهال د پسرلي په زېريګرو

شنو شپېو کې

توتکۍ د پاکي مينې

خپروي د هسک پر لوري

د الوت د برم ځانګونه .

~ ~ ~

نيمه خوا بلبلان ويني

په هېنداره د رڼوب کې

د شپينيو ترمو اوښکو

د باور د سباوون د رنګينيو ،

د ځلميو تکلونو مرجاني

سره بهيرونه.

~ ~ ~

اوزه وينم

ستا د سترګو په څپاند

مست سمندر کې

چې لاهو ماته ببړۍ مې

د پيغلوټو مينه وړو ارزوګانو

-لا هغسې-

دښکلا لارې ګودرې ،

ګلکځونه پسې نغاړي .

ننګرهار ۲۰-۱۲-۶۹

## دسپیدو سیند

یه د پسرلي هستي ښندونکي خیالولې ورېمې ،

د زړه وړونکې ښکلا

او خوږې میني نغمې،

چې پر ګوګل د کاڼو

تک سره بامې ټوکوي

او پر بستر د اغزو

تک سره غاټول ګلونه . . .

لږ خو زما پر چم هم ولګیږه

پر خزان زمولو ګلکخونو زما ،

پر تالا شوو ګلبڼونو زما !

***

لږ خو پیغام د ښیرازی

د وچ ښونه غوږ ته مې ورسوه ،

لږه خو پوکړه

د شمشاد په مړو رګو کې مې سا ،

لږ د نارنج له پر ندو وینو نه مې

زېړو زبېښلو اننګو ته

مخسوري وبنبه !

***

لړې خو وشاربه

زما پر هسک دا تورې وريځې ،

وچې چينې کړه د باران را تاندې !

چې پر سپېرو شونډو د وچو

جلو هلو ميرو

زمولې غوټۍ مې د موسکا

تک سره ګلان وسپړي .

***

نورې مې وولره د سپېدو په سيند کې

دتورو شپو ګردونه

چې مې رانه سپين سهارونه د رڼو امېدو

نور له درانه مومياېې خوب

شي راويښ

اوپلوشو لره د هيلو د لمر پرانېزي

د مینې غېږه!

ننگرهار ۲۴ـ ۱۲ـ ۶۹

## دگلوکروندې

یه یېبرورو سپرلنیو وریځو !

پام کړئ چې هېرې نه کړئ ،

لاندې د ځمکې پرمخ

دا کروندې د گلو . . .

چې خړوب کړې تاسې ،

راټوکولې تاسې

او پایې اوس هم

ستاسې د لورو بنساندې په هیله

ننگرهار، ۲۵ـ ۱۲ـ ۶۹

## د مرغلرو باران

هغه څه چې

.له مودونه.

تورو وريځو

پټ په زړه کې وو ساتلي . . .

بريښنا ، تالندې

.نا څه په.

هغه ټول رسوا رسوا کړل . . .

او د ورتو ورتو اوښکو په بڼه يې

.پر گرېوان د هسک د ځنډ .

کړه راتوی لکه باران د مرغلرو !

ننگرهار، ۲۲ ـ ۱۲ ـ ۶۹

## زيری

زېری ،

زېری

د ځنګلو او د باغو سرلوړو ونو !

چې تبرونه د دښنو مو

نور پخ شوي

زنګ وهلي

او لوېدلي دي له غوڅې . . .

نور به نه درغوڅوي څانګې ، ښاخونه!

***

ما په غتهو غتهو ولیدل چې پرې شول

آلاسونه چې یې تاسې پرېکولئ

او پر سپینه رڼا ورځ یې

دمرګ کومې ته سپارلئ . . .

***

ما په خپلو سترګو ولیدل،

مختور شول

چې يې تاسې د باروتو په لوګو مختورولئ . . .

***

نور به ټيټ مو

د خزان سيلۍ ته نه شي دنګ سرونه،

نور خوراک به د اور نه شي

ستاسې پلې، وژي، هډونه !

ننګرهار ۲۷ـ ۱۲ـ ۶۹

## واټن

زما ستا تر منځه پروت

که لوی واټن دی ،

سره تېنګې یو له بل مو د زړه مراندې

او په خوب کې یو ، کړی شپه

زه او ته غاړه پر غاړه . . .

خو پر سپینه رڼا ورځ یو

یو له بل ځنې جلا ،

یو له بله ځنې لرې . . .

ایا مینه ده

کوم شرم یا ګناه

چې یې پالو به په پټه تل تر تله

او یو لرې به همداسې یو له بله ؟

ننګرهار ۲۸ـ۱۲ـ۶۹

# درود و سلام

زما سپېڅلې مینه

د اورو وینو له څپاند سمندر پورېوته

او ویې نغښتې خونړۍ،

مرګاني لارې ټولې

په سره ویلوب کې د پولادو سرپو.

***

زما سپېڅلې مینه

له سره بیرته بیا را وزېږېده ،

د تعمید غسل یې په چینه د ژوند اوبو کې وکړ

او ونیوه یې هله

د خپلې بیارازېږېدنې جشن

دا فرود یتا په سپېڅلې جنتې حرم کې.

***

زما سپېڅلې مینه

لکه سپین نمرې پرښته د وحې ،

-په وزرونو د قدس-

د لمر د خدای تر عرشه

د هسک پر لوري الوتنه کوي . . .

چې بیا د لمر د سپینو وړانګو په لاس

لاندې د ځمکې پر لور.

درود و سلام را واستوي

سرکو غاټولو اوربدیو لره!

ننګرهار ۳۰ـ۱۲ـ۶۹

## د سپیدو په وراکې

-۱-

یو څه پیښ شول

یو څه واخېستله تومنه

په زېلانځ د زماني کې . . .

چینې تاندې شوې په زړونوکې د کانو ،

شینیلي وتږوکول تبجنو د ښتو ،

تالا شوو سرو باغچو

ونمانځله زېږېدنه د نوزېږو ګلغوټیو.

- ۲-

یو څه پېښ شول

لکه راز،

لکه رمز

او ته راغلې لکه ناوې

د سپېدو په سپینه ورا کې

له سهار سره همغاړې ،

سرې غونچې غاټول په لاس کې

دا زما د زړه وربوی ته . . .

یه زما د مینې برمه ،

یه زما زړه مېرمنې !

ننګرهار، ۱ـ۱ـ۷۰

## هغوی . . .

هغوی کفن پر غاړه . . .

چې یې وو سکښتی او ښکو وینو نه خپل ،

چې یې ګنډلی وو د زړه په مراندو

ـ د شهادت سپېڅلی لیک پر ټندو ـ

ور ودانګل د توري شپې

پر غلیاکګرو باندې...

هغوی د اورو وینو

او د پولادو سرپو ،

د سره ویلوب له هستي سوزې

بوږ نوونکې لارې

ـ په بدرګه د پاک ایمان او د سپېڅلې مینې ـ

ور واوښتل د شنو شپېو د شینشوبیو

تکو شنو درګوته

او تر وروستۍ سلګۍ د مرګه پورې

د سباوون د سره ګلبڼ تر وربوی ورسېدل . . .

سخ د سپېدو او د لمر ښار پر لارویانو باندې

چې يې غميو د سرامنو اوښکو

خول کړ جړاو د تاريخ،

کړه يې رنګين نوی پړاو د تاريخ !

د خوست شهيدانو سپېڅلو ارواووته؟؟؟

## دوينو ګل کړ

ولې ولې پسرليه !

دا دې څه چارې را وکړې . . .

نور کله خو به راتللې

لمن ډکه له ګلونو ،

ولې راغلې داځل هسې

ځولۍ ډکه له سرو وينو ؟

موږ خو ستا د رنګينۍ

او مخسورۍ په نامه ډېرې

دروږ کړې اسطورې د شهادت وې ،

موږ خو ستا د ښېرازۍ

او سمسورۍ په نامه

ډېرې ښېرازې تاندې وياڼې

کروندې خپلې ربېلې ،

مورېږ د خپلې رښتيانۍ سپېڅلې مينې

د ازمون او زباد لپاره

ستا په پښو کې ډېر سرونه وو

ښندلي

او د خپلو تکو سرو شهيدو وينو

په ګلکر مو

وه لمن ستا له بې شمېرو

سرو رېديو او باميو ډکه کړې !!؟

۱۹ـ۱ـ۷۰

# د باور آیتونه

ستا د زړه وړونکي برند ښایست د ښکالو

خواره خوارېه وییونه

شي انګازې انګازې

.لکه سپیڅلی سرود .

په شنه ګومبز کې د مزدک د پاکې مینې زما.

***

تا د شپېنۍ چوپتیا کنګلې شېبې

کړې د باور د سباوون د لمر په وړانګو ویلې

او د ویرونو تورې لړې ،

ګردلې د ې تولې

کړلې زما د سرو ښکیو له چمنه لرې.

***

تادسپرلي غوندې زما پرښوره چنه بېدیا

د امېدونو تلښپزاره کروندې

راشنې کړې ،

ودې ژغورلم له ګړنګ د نهیلۍ ځنې زه

او دا دی اوس مې د هستۍ بودتون

- لکه روڼ ذهن د اسمان-

شو د باور د آيتو په ښايسته ستورو

وړانګين!!؟

۲۱ـ ۱ ـ ۷۰

## زه به ولاړ نه شم هېڅکله

زه هغه ځانګغوځ بلبل يم

چې به هېڅکله پرې نه ږدم

خپل تالا والا ګلبڼ مې ،

دا وران کور او نړېدلې زړه ځاله...

که هر څو پکې کارغان د تور وحشت کړي

الوتنې ،

که هر څو اهريمنان د تورو شپو پرې

واکمنې کړي

او هرخوا پکې خپاره دي تور دامونه

د تور زړو وينې څښونکو صيادانو.

*　　*　　*

زه به ولاړ نه شم هېڅکله

له دې ترمې ترمې زمول او

له تالا ترغۍ چمنه...

که هر څو دې د باروتو له زهروبه

زهر ژلی

او د سرپو او پولادو

په ویلوب کې لمبېدلی.

*　　*　　*

که یې ځمکه راته اور ده

او راووري یې له هسکه تندرونه ،

وبه نه لېږدم هېڅکله

له دې خپل ویرژړېدلي سره گلبڼه

له دې خپلې ورانې ځالې . . .

زه ولاړ په ټول ایمان یم

د توپان مرغه په شانې

هر یو نېز، هر یو توپان ته

د وختونو د ناخوالو ، ناتارونو

چې راځي يو بل پسې پر دغه سيمه.

* * *

زه به داشاړې ويجاړې

د بل چا پر طلاي پنجرو ورنه کړم،

پرې به نه وځي زما د وزرو سيورى

د پرديو پر سمسور و ګلکځونو،

وبه نه کړم الوتنه

د بل چا پر غرو رغونو،

شنو ځنګلونو.

* * *

خداى دې نه کړي

چې دا وران کورګى او ځاله

همدغسې ډوب په اور وينوکې پرېږدم،

اود خپل يوازېني ځان وکهول

د ژغور لپاره

بې پروا او بې ښې بدې ترې ولېږدم.

* * *

زه به وانه لوځم کله

له خوګلن د دې چمنه

که به مرم،

که پاتې کېږدم

کور و ګور مې دی همدغه...

پرې ،

چې ولیکم خپل وران بر خلیک

په خپلو تویو شوو سرکو وینو

او سمسور کړم دا خزان زموللی باغ،

په سپرلنیو سرو ګلونو !

۲۴_۱_۷۰

# دسباوون په ذهن کې

يه ځلانده سپينه لمره !

رابنکاره کړه مخ د وريځو

له تياره تور پېڅوله

اوکړه خپله تکه سره ابشنده وينه

په رگ رگ کې د پرتم د هسک را تانده .

*    *    *

يه ځلانده سپنه لمره!

د تيارو اهريمن وينم

چې د شپې له دړې وړي

مات مورچله

لا هغسې ناسپېڅلی جنگ

پر مخ وړي

او تک تور تپلې ذهن يې

له لمر څرکه لا تشتور دی.

*    *    *

لا د شپې د تبارې تور زهرځلېږي

د سپوږمۍ په جادو يي

سپينزرين جام کې...

د ارم د نېکمرغۍ د ښار

پروره لا

زنگوهلی کولپ څرېږي

د تورتم د تورو د ربلو

او کيلي ده لا په واک کې

د پيرېو د دېوانو .

*   *   *

په ځلانده ښکلی لمره ،

يه د مينې او ښکلا تلپاتې برمه !

ذهن مې ډک د سباوون کړه

د امېد و ځانويسا په اورنيو سرکو وړانگو

نور پرې نږدې چې هستي مې

د تيارې او د چوپتيا په زمهرير کې شي

همداسې کنگل پاتې !

۲۷ـ۱ـ۷۰

# د لمر ترانې

مه شه،

مه شه!

بیا راغبرګ هغه تیاره تور مهالونه

چې له اخواد پېړیو د وحش

د تور ځنګله

راغځېدلي تور لاسونه

په سره اور، تورو باروتو، شنو لوخړو

د موسکا د نارنجباغ

دروازې تولې

وتړي بیا

او پر ځای د نارنجګلو د عطرونو

د سرو وینو سرې ویالې کاند

بهاندې...

بیا پر ځای د سباوون د رڼوبیو

لمر ځان پرېوي د نرګسو د سرو وینو په تالاو کې.

* * *

مه شه،

مه شه!

بیا راماتې

هغه سرې سرامنې اوښکې

د ناخوالو ویر ژړلو سرو ګلولو

پر وښکیو . . .

نه چې بیا د تېر مهال

تورې منګولې

د ښایست د کاله پېغلې ګلغوټۍ کاندي

ژوندۍ ښخې پر ګور

واړه له سېلمې . . .

اوکړې ډکې متېنګې د بېګروهیو

بیا زانګووي د سپېڅلې پاکې ګروهې د نوزېږو.

* * *

راژوندۍ مه شه

د و ختو هغه مصلوبې مړې شېبې بیا

چې تور مخې دوزخې

تورې ارواوې

ذهن ډک کړي د سپرلي د ناوکیو

د تور تمو تورو شپو له تورو لړو...

او ونه رسي غوربوته

دښېرازو شنو ښونو او ننبترو

انګازې د ترانو د لمر د وړانګو.

* * *

راسرمه شه

نور پر سیمه د ځړمني

منګني ساړه بادونه

چې نیمزالې ناسپړلې غوټۍ وزمولي

له مخې ترمې ترمې

او د هرې تکې شنې پاڼې پر مخ کړي

# پسرلنی

زما دزړه پر جلو هلې دښته

نور پسرلی ښېرازي نه لوروي . . .

نه يې د تندې فرياد

تور غورڼو وريځو د اسمان ته رسي ،

نه يې پيغام تر خوږو غاړو د خاچوڼو د ګلبڼ.

* * *

لاس مې د نياز نيولی

د ((اندر)) و ((نوم)) او د ((فلورا )) خدايګوتو (*)

د پسرلي د سمسورۍ او ښېرازۍ دربار ته ...

ګوندې زما د زمولو زمولو ارمانونو ورشو

کاندي راڼه که له تنکو شينيليو شخه ،

له تاندو تاندو ګلغوټيو شخه .

* * *

لاخو زما د ترې ذهن زېلانځ

-لکه خوږو وږمو شاربلی چمن-

دي يېبرور د غوړېدا له ښوبه...

دپسرلي د رنګین شعر له ګلو ییونو ځنې ،

د سرو لا له وولهلالونو ځنې.

۱۲ -۲- ۷۰

((اندر)) او ((نوم)) د پخواني نورستان د ښېرازۍ او ییبرو او (0)
((فلورا)) د پخواني روم د ګلونو خدایګوتې وه. (1)

## ناباوري

څنګه باور د پسرلي د ښېرازۍ

پر رښتینوا له وکړم ؟

چې د باران د ژوند ښښونکو

رڼو څاڅکو پر ځای

د هسک له سترګو

سرې سکروټې ووري،

دلونګ بوټو دوړمونو پر ځای

له غرو رغو وږم د وینو راځي

او له زموللو ګلبڼونو ځنې

دتاند لبانو گلغوټيو جنازې را وځي !

***

زه وران بر خليک د شينيليو ژاړم

چې د پسرلي د شنو شېبو ارمان يې ونه ختنه

او په رګو کې يې د ژوند وينه ونه چلېده . . .

توندې سيلۍ د وچکالۍ زر غاته پرې نه ښوول ،

پاتې له مرگ شول د رېديو ياقوتي خوبونه .

***

نور د کړونګو غرېو نيولې ساندې

تر وچ کل لک ذهن د ګاګرو نه رسېږي

او ژبېرېکړي بلبلان د چمن

نورې نه بولي سپرلنۍ سندرې . . .

ناباورې د ښېرازۍ د دې خړمنې ژاړم .

۳۰_۳_۷۰

## خوبولې نغمې

ماته کيسې د زهر ژلو تورو شپو

د بېلتانه مه کوه

ماته کيسې د خوږو ورځو د رڼا

او پخلاينې کوه

زما زړه زور نور د ترخو شېبو

د زغم نه لري . . .

راوروه مه نور زما پر جلوهلي ذهن

د اورو وينو د يادونو باران .

***

پرېږده چې واونمه دې
له سترګلينونو د ککيو له بڼ
عطر د مينې د وربمو د ګلو ،
لکه کوکۍ دې
د ښايست له ګلکڅو وچورلم
ستا د نازونو د ګليون په پلمه.

***

نه غواړم نور
چې ګلوييونه مې د شعر د ګلبڼ

شي د اغزيو د پوليو بستر

او پرې ويدې شي ستا د مينې

تېرې هېرې خوبولې نغمې.

ننگرهار، ۲۲ـ۴ـ۷۰

## دسبرونو نڅا

(۱)

دسکنهلي تور ماښام تر تور تياره

پېښول لاندې

داغزيو ، درگو ، دربو ،

د کرکڼو او سپلميو

دتور گور ځنگله په منځ کې

سر پر تورو ورانو شاړو ، کړو لارو . . .

اخوا دېخوا لا لهاند په تيندکون

غورځېدم و پر ځېدم تپرېدمه .

(۲)

دتاوده دوبي له تاوه

ـ تا به وېل ـ

له هر بوټي ، هري غنې

سرې لمبې د اور جگېږي . . .

له تبجن لوغړن دوپه

غرېو نيولی د باد ستونی

(۳)

تا ببره هلته وړاندې
.لوېديځ خواته.
رڼا و برېښنوي سترګې
دتور غر له شا سپوږمۍ ورو ورو راخېژي . . .
دنيمزالو پلوشو په عطرو مينځې
توری د ربلې د تياره ماښام له مخه .

(۴)

دسپوږمۍ، ستورو رڼا ته
دسپين غر واو ريني څوکې
په موسکا دي ،
سره وزمه شان ورمه يې
راخپره پر غاړو مورګو ،
شاوخوا بس يو سپين پړک رڼا رڼا . . .
د تور غر له توره ذهنه
توري ليکې د تيارو نوري پاکېږي
او زه بوخت تر نيمې شپې
په ننداره د سبرونو
چې سپوږمۍ ته په هېنداره د چينې کې
په مکېز مکېز نخېږي .

سلطانپور، ۲۲- ۴- ۷۰

# پروچوبه ایمان

د وچکالۍ تودې سیلۍ

دباغ د ونو سپرلنۍ هیلې

تا لا والا کړې

او د میرو د نهیلیو دوزخي تودوخه

تنکۍ ورشووې، گلکخونه گوانبې .

***

نور نه ویني د شینیلیو زرغا

دشنډو وریځو په وربښمین بستر کې

دبنفشي باراني څاڅکو

هنداریز خوبونه

او د ویر ژلو بلبلانو د نغمو پر اوږو

له زمول گلبڼ

د تاند لبانو ځوانیمرگو گلغوټیو

جنازې راوځي .

***

دسربني سپرلي ناخوالي ژاړم

چې یې د سروگلو

گلپاڼو پرځای

کړله د بڼ لمن له ځوزو ډکه

او پر وچوبه یې ایمان راوړی!

۱۵ـ ۵ـ ۷۰

## د سباوون ترکلي

ما نغښتې لار د نشت اباد
د ګور ځنګله له منځه،
دخپڅپاندو تکلو
د بوږنوړو ګړنګو له لارې،
د جلوهلو بیابانونو دځلوبونو له سیند...
د ژوند ښنونکو سرچینو په هڅه.

***

ما له ساړه سمخ ګوګل د چوپتیا
زمولې مونګرې د ترمو ترمو اسوېلو
اوښتې ،
ما د بلهارو ارمانونو له شهیدو وینو
د پیغلې مینې په وربل کې
سره لاله ټومبلې ...
زه له تروږمیو تورو شپو
له چمه
یم رسېدلی د سپېڅلې سباوون
تر کلي.

***

ما له تور ذهني لنډ تنګ قابه د ((زه))
پرې ایښې د هر سترې ستومانه
واټونه تر شا

د ژوند اوبو د تلهباندو

رڼو بونو پرلور ،

د «مورې» د میني ارت جهان د ښېرازۍ

د ګلبڼونو پر لور.

۱۸ـ۵ـ۷۰

## پیغام

سپینو کوترو د بامو پر سرو

په خپلو سرو مښوکو ولیکل چې:

کلونه وشول ،

له اخوا د اورلمبې بلېږي

او را سوځي مو د الوت وزرونه...

څوک به تر «غرو»

زمورې د سولې پیغام ورسوي ؟

۱۹ـ۵ـ۷۰

( . . . )

موږ خو د دوی په خوله کافر یو ،

## ـ نعوز باللّٰه ـ

نو دا دنیا راته زندان

گرځوي ځله ؟

ایا پخپله کافر نه دي

چي نه نغوزي

دا سپېڅلي وینا وراشه

(( الدنیاء سجنَ لِلموٴمنین

و جنتَ لِلکافرین )) !

۳۴ـ ۵ـ ۷۰

## زموللي پاڼي

د پانرېژ سیلۍ را ماته

د پسرلي پر ښېرازیو ،

ښوروي د ونو څانگې

رژوي زموللي پاڼي . . .

پاڼي نه دي ،

شني شېبې دي

چي رژېږي ،

راتویېږي
د زمان له شينکي ځانګې
-ترمې ترمې -
دتاریخ پر منګنیو تورو خاورو . . .
خو،
زما باور لا هسې
د پسرلي د شينيليو
او د سرو ګلو په شانې
تلنبېراز و تلسمسور دی . . .
زه امان لرمه بیا هم
چې لمریني پلوشې
-هر سباوون-
زما د ځمکې
غرېو نیولې سوې ساندې
یوسي شنه نیلي اسمان ته
دتلپاتې سپېڅلتیا.

۳۰-۲-۷۰

# دګلو امېل

ګلالۍ شونډې کړه موسکۍ لکه ګل
چې ورسره زما د زړه غوټۍ هم ګل وسپړي .

***

دبڼو چتر دې لړ جګ ونیسه
چې په ځرخوب د سمندر کې
ستا د مستو سترګو
دخپلې مینې د برخلیک ماته بېړۍ ووینم .

***

د غبرګې باغ زما پر مخ پرانېزه
چې پکې خپل تالا والا
نامانا شوي ورک خوبونه
وموموم بیا یوځلې
او کړم همتا ته یې ډالۍ
لکه امېل د ګلو!

۴ـ۷ـ۷۰

# نني يادونه

له ښکالو د سترګلينو دي
د سپېدو بلينه بلانده ،
له رودونو دي د سترګو
د سبا موسکا بهانده
***
ستا له ګونځې ګونځې تندي
د باور آيات رازبږي ،
ستا له مړاوو اننګيو
تاندې وړانګې رالونبږي.
***
دزيړ مخ له پلوشو دي
د لمر څوک باغچې رنګينې ،
ستا د زمول ښايست له برمه
راتودبږي سرې مينې.
***
نو ، زما د شعر په ژبه
د سبا درودونه واخله ،
د تاريخ موزيم لپاره
نني يادونه واخله !

۹ - ۷ -۷۰

## زه- ته

ته مې لېمو کې يو تلپاتې ښايست،

زه ستا په زړه کې يوه هېره مينه . . .

زه ستا په ژوند کې د پسرلي

زرغون ښېرازه سرود ،

ته زما ژوند کې د خزان

يوه زموللې نغمه . . .

ته غرونه غرونه چوپتيا ،

زه غرونه غرونه فرياد !

***

ما ستا په پېښو کې ولونل

د سرکو اوښکو ياقوت،

تا وشړلم ببنوا د ناز ښکلا

له درشل...

وتوکول ماله سرو وينو

گلگخونه درته،

تامې د ژوند په سپېره دښته کې

اغزي وکرل . . .

زه له يو مخې تول وفا وفا ،

ته له يو مخ تېوله جفا جفا !

***

ته له سرې سمخې گورنډې د نهيلو
ارمانونو راځې ،
زه د سر تېرې ژوند جگړې
د اورو وينو
بوډنورې اوږدې لارې نغاړم !

***

ماکړه ځواني له تا ځار،
تا مې ونه کړ تش يو ياد هومره هم …
ما دې د کرکې ټول ترخه
په مينه مينه وځښل ،
تا مې د مينې ټول خواږه
په اباسين لا هو کړل !

***

ما د ککيو غمي کېښوول
ستا د برم په خول کې ،
تا زما نوم د نشتېدنې
پر کنگل وليکه . . .
زه غوړوم وازره د لور پرتا ،
او ته زما سيورى په تيږو ولې!

***

ستا د تيارو تور تمو شپو
د رڼاوې لپاره ،

ما پر سر اور لکه د شمعې

تر سهاره بل کړ . . .

او تا زما د سپين بر خليک

د تورولو په نيت ،

زما پر سپينو رڼو ورځو

توري شپې راوستې!

***

زه ږيږيگو د سباوون

د غوړېدا د موسکا ،

او ته منکره د باور د پلوشينو شپېو . . .

لېږدوې خو به پر اوږو ته د وهمو

دزنگوهلي ذهن

د تېرو هېرو ارمانو

موميايي شوې د رنگې!

***

هو،

تا سپارلی ځان د مرگ و ژوند ترمنځ

هسې بې خياله، بې توپيره

د چوپتيا کومي ته

او د وبلاړ ماته بېړی دي

په ځپو د ځپانو کې راښکلېل...

راشه نور پرېږده دا زاړه هوډونه ،

لړمې د زړه اواز ته غوږ کېږده !

۳۰_۷_۷۰

**ترهه**

ګرانې،

ته مه وېرېږه

چې د پانړېژ سړو وحشي سیلیو

ویرغالل د پسرلي د ګلګخو پر ذهن

او د تورتمو تورو وریځو خېمې

کوي درنښت د شینیلیو پر نازکو اوږو.

که ته ځان ونه سپارې

پرخزان زموللو ونه سپارې

او غوږ کښېږدې نه ږدې د سړو کنګلو شپو

د لار وو کوکو ته...

مني به کډه وکړي

او نړېدلو ورانو ځالو ته به

آکوچېدلي توتکۍ بیرته را ولېږدېږي .

هو،

که و نه بایلې ځان

په ویر نتلو خزاني شپېو کې
او د پسرلي پر بیا راتگ
پوره باور ولري
چې ښنگه ډکه کړي ځولۍ ستا
د سبا له گلو...
او بیا خاچونې ستا په غوږ کې
د ښتینې پاکې مینې
ترهېدلې ترانې وبولي!
۵ـ ۹ـ ۷۰

## ناباوري

نا باوري د ښېرازۍ د دې چمن
د ناوکیوژاړم
چې په رگوکې یې زرغونه تانده وینه
کنگلېږي پسې...
او په بهیر کې یې د زمولو شپېو
سړې سیلۍ د هستۍ ستونې مروړي.
***
ژاړم بر خلیک د سپېدارنو د باغ
چې دنگې ونې یې نا پایه فریادونه دي
هسک پر لوري
د ځار ځپلې، ویر ژړلې ځمکې...
اود نیستۍ پر تورو خاورو یې

پر بوتي ترمې ترمې رژېدلې پاڼې،

دزندی ژوبل پاک ایمان صحیفې.

ناباوري د ښېرازی د دې چمن د شینیلو ژاړم.

## دفریاد لاسونه

زه لکه هغه بېدیانی

ځانته ولاړه ونه

چې له مودو مودو یې

دې د فریاد لاسونه پور

د اسمان پر لوري...

او په بهیر کې یې د توندو

خزانې سیلیو

هره زمو للې ترمې ترمې

رژېدلې پاڼه

-توا یو خیرله د سوځلې تاریخ

کړې د ناپایو ناتارونو کیسې .

***

زه لکه هغه وزر ماتې زانه

چې په پاڼرېژ کې وي له کوچه

د هسیالو پاتې...

او څورويږي د چوپتيا او ځانوالي

ژمنۍ اند ېښنې .

***

اوه ،

دا به څومره وای

له زغمه وتې ،

که دانړۍ وای له يو مخې بېديا

او کال وسر منۍ ژمی . . .

نه به پاڼريږ وهلو ونو شنه خوبونه ليدل،

اونه ځانګغوځو چوڼو

دګلیونونو په اسره د سپرلنيو ورځو

د وير ناتار ويرژلي شپې

په شوګيرو روڼلای !

۲۸ ـ ۹ ـ ۷۰

## ويرنه

يه پخواني مسته مغروره اشنا !
پر تامې خوا بدېږي،
پرتا مې زړه سوزېږي
چې څه خيالي ښکلې ځواني دې
هسې پرېښووه تر شا ،
اود خپل ژوند بري بريا
تر روستي بريده سم ونه رسېدې. . .
څه که دې ورځې د «کمون» کړې
پرکلو بدلې!

*          *          *

دا څه کانه در وشوه ،
چې راغوځار سر پر ځنې شوې
د غرور له نيلي
او کبرو ناز دې د ښايست شو
نور له مر گه پاتې...
شو درپسې گوندې ازار زما د ژوبل
اسکېرلي مينه وړي زړگي
چې دې سپاره هسې
بې لورو بې ښې بدې
د ډښنه وو پر لاس !

*     *     *

له هغه وخته چې تا زه
پر سپین میدان پرېښووم ،
له هغه وخته چې دې نورو لره
مخ او ماته شا کړله بیا
او ما سره دې ګډ بر خلیک ورته
په واک کې ورکړ . . .
تا د هغو په لمسه
کېښووه لومړی زما پر ستوني چاړه
او بیا یې هله ته هم اړ ابستلې
چې کړې په هغه چاړه پرې
خپله مری په خپل لاس !

*     *     *

هو ،
تا نه زه او نه جهان و پېژاند ،
زه شومه ستا د کبرو نازو لوښوپوخ واري
او ته د نورو د دوکو بلهاري . . .
داسې بېنوم او بې نښانه دې نړی پرېښووه
چې دې یو خاپ هومره د پلو هم
ترشا پرې نه ښووه !

*     *     *

نو ماته اوس بې دي

نور څه پاتې دي

چې وژاړم دې بې اجله مړينه

.دا په لوی لاس دې د خپل ځان وژنه.

او ستا د ورک قبر پر ځای کړم

او ښکې توې

پر ویلې شوې پولادي پړي دې!

۲۹ـ ۹ ـ ۷۰

## کنګلې پرخې

کله چې زما د ځانلوالي له تبجنې جلوهلې
دښتې
د وزرو سیورۍ د باران د آلهې
پنا شي...
او نور کړې مات د زغم سنګر مې
پاکلمنې او ښکې . . .
چېرې یې
ته د زړه مېرمنې زما ،
کړۍ پر لور ستا د زړه ستنې زما !
***
کله چې پر بوځي ژمنۍ کنګلې پرخې
د زموللي نارنجباغ
پر سراغزیو باندې
او لا مې هغسې د تیارو تورې منګلولې مروړې
د سباوون د رڼو بونو مرۍ . . .
چېرې یې ته زما د مینې
د ارم ښاپېرۍ ،
چېرې یې ته زما د تورو شپو
روښانې ډېوې !

***

کاشکې زه دومره پوهېدلای ګرانې

چې ته زما د بېلتانه ، یوازېتوب

په کنګلې شپېو کې

هلته د مینې د نومورکو بلهاریانو

د قبرو په خوا کې

.هلته یوازې له خپل ځان سره.

ژانګې د کوم یو تاند لبانده

د ناپایو اندېښنو په تال کې!

۲۳ -۱۰- ۷۰

## د ذهن پر اوبجه

(۱)

څه خواږه خواږه وختونه ،
څه خوږې خوښې شېبې د ماشومتوب وې
چې زه ـ ته سره همغاږي
د خپل کلي چم کوڅوکې لوبېدلو ،
لوغړن سپېره په خاورو . . .
زړونه ډک مو له خوښيو
خولې مو ډکې له خندا وو .

(۲)

تبا وايې خوب ليدل وه
که نجلتوب که ژېيتوب وو

څه خواږه خواږه وختونه
څه خوږې خوښې شېبې وې . . .

هغه هر څه ولاړل تېر شول ،

بس يو ياد يې دی را پاتې
چې رابلوسي مې د ذهن
پر اوبجه
او د ژوبل زخمي شعر له لبمو مې
لوټوي د سرکو اوښکو مرغلرې .
۱۰ -۱۱- ۷۰

## ځانله ځاني

څه وختونه ،
څه خوږي خوښی شېبې وې
کور وکلی به مو پرېښووه
په تکل کې د ګلیون د ګلکڅونو
په شېبو شېبو باران د پسرلي کې
په چکړو کې لېت پېت د کوڅو لارو.

***

اخ ،
چې اوس له بده مرغه
را ورېږي ژمنۍ ویرژلې واورې
او زه ناست یم ورته ګورم
بې له تا ځنې
په دې ځانله ځانۍ کې!

۳ـ۱۱ـ۷۰

## واورين شال

پر بستر د بېلتانه
اوړم را اوړم ،
تنبتېدلی له لېمو ځنې مې خوب .
له هېندارو د کړکۍ
ګورم بهر ته ،
اخوا دېخوا هسې بوخت پر ننداره
په واورين شال کې د نغښتې
ويدې ځمکې .

***

سپينې وړانګې د سپوږمۍ ولې
د کنګلې شپې له مخ د تيارو اوښکې
چې له ګورو سپينو وريځو
رانښږي او ځلېږي .

***

هلته وړاندې سپين سپېدار
لغړ ولاړ دی
په زرينو سپينو واورو کې
پسوللې...
ښايسته زريني ځانګې
تورو سپين او برګ څو سپې يې
تر رونبان کنګل نيولې

سیوري لاندې

ډوب ویده په درانه خوب

سره همغاړي .

***

ټول جهان ارام ویده دی ،

هره خوا چوپه چوپتیا . . .

او زه هسې ناارام شوګیر وهلی

پر بستر د بېلتانه اوړم را اوړم،

ټول شپه تر سپین سهاره .

۱۱ -۱۱- ۷۰

د سر بايللي ((شکور)) پر ياد:

## تويه تللې وينه

خوشې پر خوشې دې ببڅايه

تويه تللې پاکه وينه ژاړم .

تاپه دې هسې بې بنسټه اتکل

چې دې بې شمېره سربښندونکي لاروي درپسې ،

په بوږنوړو تورو شپو کې

-په څخوب د خپلو وينو-

دژغور لار د لمر پر لوري نغښته!

~ ~ ~

وغولېدې ته په ښکالو

دکوم بې پژې (( چا ))

د پلونو هسې

چې يې په غوږ کې

هسې تشې انګازې کړلې ستا ،

خو په ربښتينه دې تر شاوه

تهوله لار تشتوره...

او په لوی لاس دې وو وران کړې

په خپل ځان پسې

تهول پلونه يومخ !

~ ~ ~

هو تا غوښتل د ګړنګ ژی ته

رسېدلی برخليک

له ها اړینو پر ځېدا وژغورې ،
خوشوې غوځار هم ته پخپله په یو سر
سر پر څنۍ‌ها د نیستۍ ګورنډې ته . . .
ستا په دې هسې تویه تللې
پاکه وینه ژاړم!
۱۸ -۱۱- ۷۰

## دپنجرې ور

والوځه ،
کوشنوټې مرغۍ والوځه!
والوځه ،
کوشنوټې ښایسته ښکلې مرغۍ والوځه !
***

وردې د پنجرې پر مخ
پرانېزم نور،
نوره ته آزاده یې ،
هر خوا چې دې زړه غواړي...
والوځه ،
پر باغ وراغ ځنګلو باندې ،
ښکلو ګلکڅو باندې !
***

وبوله ،

نغمې د مينې وبوله،
ځانته دې د ژوند ملګرې
هله بيا راوبوله...
هله بيا په ګډه سره جوړه کړئ

د درګو، دنګو ونو په ښاخو کې

ځانته ځاله مو...

پيل کړئ ژوند له سره بيا

- په مينه ازادۍ سره -

زاغ وزغن مه پرېږدئ

نور هېڅکله بيا خواله مو!

***

والو ځه ،
کوشنوټې مرغۍ والوځه،
والوځه ،
کوشنوټې ښايسته ښکلې مرغۍ
والو ځه !

۲۲ـ۱۱ـ۷۰

# ایمان

پرې ،
چې د سترګو ډیوې
ډکې له تېلو نه دزړه د وینو .
ستا د راتلو په تور تیاره بهیر کې
بلې کړمه

پرې ،
چې د ستورو د موسکا
په الماسي غمیو
ستا د اسمان د برې خول
جړاو کړم
او په شپېنیو تورتمونو کې دې
په بدرګه دې د باور د سپېدو .
دلمر مزدک پر لورې
لار رڼه کړم . . .
زما د مینې پر پاکۍ باندې
ایمان ولره !
۲۲ـ ۱۱ـ ۷۰

## مروړي خنداوې

زه نه یم نور د سرې ببډیا

هغه نیمزالې شمه

چې په بهیر د توپاني سیلۍ کې

د خپل بر خلیک روستی پیغام

دمړو سلګو په ژبه ولېږدوم .

~ ~ ~

زه د درنې سړې چوپتیا له کومي

یم راوتلی آسرکښه فریاد

چې سمې غرونه ټول را ولړزوم

او خپل پیغام

- په ټول شور زوږ-

دکاڼو بوټو ترغوږ ورسوم .

~ ~ ~

زه پر اوږو دپلوشو

ستا دبېسارې ښکلا

د نهیلیو د ساړه ستومانه ژمي

پر کنګله مینه

د مړورو خنداګانو د سپرلي پر لورې

لار لندوم .

۹_۱۲_۷۰

## پسرلنۍ سیلۍ

یه توندې سرې پسرلنۍ سیلۍ ،
ونې بوټې مه شاربه،
هسې د سپرلي د زېږېدا په پار . . .
خدایزده چې ځنې زېږي څه ،
دوی نه خو د ګلو موسکا نه زېږي .

***

نه جوړېږي ستا له دې شاربلو څه ،
ستا له دې ترورو منډو تړو ،
الوتلو څه . . .
هر څه په دې باغ کې زهرژلي دي،
سرپو او پولادو ونې بوټي
ور وژلي دي .

***

ستا په دې شاربنه
ژوندي کېږي نه ،
سرې او شنې نغمې د پسرلی ترې
زرغونېږي نه . . .
دوی خو د ګلونو د خوبونو
د عطرو پر ځای
تکو سرو چینو د اورو وینو کې

لمبلي دي...

نه زېړې غوټۍ او بنجرې څنې ،
نه زېړي ګلونه او مېوې څنې .

***

ستوني د بلبلو دي لوېدلي
د باروتو له رنجو ځخه
نه شي غړولای د دې باغ
دزهرژلو سبرونو پر ښاخو باندې
سرې اوشنې نغمې د پسرلي نورې . . .
تور ناتار ځپلې په رګو د ژوند کې
وينه ده ،
دلته يې وژلې له يو مخ
په زړو کې مينه ده .

***

ګوَرې
دا هم هېره نه کړې
يه شاربونکې سپرلنۍ سيلۍ!
کړې يوه نيمزالې شانې هيله
د دې مړې ځمکې ګوګل کې
غځونې لا . . .
ګوندې يوه ورځ ترې له کرلو سرکو وينو
دبلهارو بيا راوټوکي،

سره او شنه سپرلي له تکو سرو شنو
گلبڼو سره ،
سرو او شنو تلپاتې ،
تلژوندیو ترانو سره ...
گوندې یوه ورځ شي
تورې خاورې د جنګو
او د مرګو پرخوله...
متېږ بیا له سره ،
دلته مینه او ژوند سا واخلي !
۱۷ـ ۱۲ـ ۷۰

# د پلوشو څنې

هغوی په دې

لکه دانه دانه غنم.

د خاورو غېږې ته خپل ځان وسپاره

چې د باور د ښېرازۍ د شنو شپېو

فصل را وټوکوي

او بیا دلمر د پاک مزدک د سپېڅلتیا

په هڅه

واچوي تال د پلوشو له طلا یې څنو نه . . .

ځمکه،

چې نه یې غوښتل

د نهیلۍ د تورې شپې د تورتمونو

په ناپای بهیر کې

خپلې هستۍ ته دنېستۍ تلپاتې

ټکی کېږدي .

۲۹ـ ۱۲ـ ۷۰

## موسکی ځپې

راشه راشه پسرلیه ،

دې زما تالا والا ، خزان زموللي ،

تر مې ترمې رژېدلي

وچ ګلبڼ ته ،

لوغړنو ګلکځو ، شاړو میرو ، وچو رغځیو ،

مړ اوو مړاوو بنجرو

سوي چمن ته !

***

راونه سپموې نوره

بښباندې دې د باران د ړنو ځاځکو ،

داوړدې سوزنده تندې په ګناه

د جلو هلو وچو د ښتو !

پرې ،

چې وچلېږې سا په مړو رګو کې

د دې ځمکې،

او راوسپړي له سېلمې سره رېدي ،

غاټول گلونه . . .

له کرلو سرکو وینو

د نیمزالو غندلغاړو ناوکیو ،

د بلهارو سور کفنو شهیدانو

د وطن مې

***

راشه راشه پسرلیه ،

دې ویرژلو ورشوګانو ،

سر دروته...

د وږمو په پستوګوتو کړه

زما د ګلغوټیو پر پترو نیولو شونډو

د موسکا خپې بهاندې

او په سرو شنو ترانو دې

د خانګغو خو بلبلانو

ګونګوړی ژبې ویاندې .

***

راشه راشه پسرلیه ،

نور را پرېوه په چينو کې

د عطرو د شينيليو

د اور وينو وير ژړلي تېر يادونه..

نور پرې نږدې

دنګې دنګې سبروني

ـ ښکارندويې د تلپاتې ښېرازيو ـ

بيا په پښو کې د مهال د پانړېژو

سر پر سجده شي

او زما د ښاخ، ارمان او مينی برم ته

چېرې بيا په کمه و کسي .

***

راشه راشه پسر ليه،

په دې ورانو ويرژړلو کنډوالو کې

د هېواد مې

راخپرې بيا زمزمې د امېدونو

د موسکا کړه...

په تګلورې کې د خپل پسرلني

خواږه نسیم بیا

سم و غرا و باغ وراغ او

ونې غنې په نڅا کړه !

راشه راشه پسرلیه ،

راشه راشه پسرلیه !

۱ـ۱ـ۷۱

## څاڅکې څاڅکي ترانې

يوه غلې شان ښکالو

د ګونګو ګونګو ګونګوسيو

کوي نن په دې تالا والا ګلشن کې غځونې

د څانګغوځو بلبلانو

چې به نورې د عطرو پر ځای سرې وينې

د نارنج د ګلغوټيو

له رګو څخه نه څاځي . . .

دنګې ونې د شمشاد به

په تبرو د کساتونو

نورې نه رانسکورېږي ،

شنې شېبې د پسرلي به

نورې نه وي تل بستر د اورو وينو.

***

نه به بيا موسکا د سرو سپينو ګلونو

په لوګيو، شنو لوخړو زندۍ کېږي ،

نه به بيا نغمې د ژوند د ښېرازيو

په مریوکې د چونو

مروړل کېږي . . .

د پسرلي ډمگۍ به نورې

دتېرو اغزیو څنې ږمنځ نه کا

او وږمې به نور نه لنبي

پر اوږو د پېغ سوړ تورږم

د بلهارو پرنډو وینو.

***

نور پر ځای به د سرو وینو

د نېزونو

وي رنې چینې بهاندې

تل څپاند شینکي رودونه،

مست نڅاند رانه سیندونه...

ځړوبي به نورې نه بولې

پرمرگ د تاندلبانو شهیدانو

سوې ساندې.

***

نور به ستوري نه راووري

.لکه اوښکې.

د وير ژلي هسک له سترګو

په لمنه کې د دې بورې بدنامی ،

د دې ځارځپلې ځمکې ...

دا پر شونډو د مهال د سپرلي ناځي

زمزمې د پاکې مينې...

هسې نه دي ترانې د رڼو ثاڅکو

د شېبو شېبو باران د پسرلي نن!

ننګرهارپوهنتون، ۱۷- ۱- ۷۱

# ترشاپلونه

څه وړیا دي هغه بڼ د زمانې

توندو سیلیو لره پرېښووه

چې له وینو یې د دنګو سبرونو

رازرغونو سروګلونو

د موسکاوو له سپرلیونه باج اخیست!

***

څه وړیا دي هغه لا ل د تور ښامار

په خوله کې ورکړ

چې وو ستا د پاک ارمان

د کان له تله راوتلی

او دا ستا د زړه له وینو یې اخیستې

رنګیني وه !

***

ښکه غلي دي هغه د سرو شپېلو

مسته نغمه شوه

چې دا ستا د تاند باور له ژورکومې

راوتله

او په ټول برم و پر تم يې

د پېړيو د چوپتياوو

شنې گومبزې لړزولې!

***

هغه ښکلی رنگين خوب دې شو پربله

چې به گوندې

د بدور دې زمانې د کنډوالو پر سپېرو خاورو

د تاريخ په يوه گوښې نا اشنا پراته ټاپو کې

د يوې ښکلې خيالولې شان مانۍ

داډانې ډبره کېږدې

***

ولاړې ،

ولاړې

په جگړه د بوږنوړو تورو وريځو د وختونو

په تکل د لاسبرې د لمر پرسيمه

هسې رنگه بې پروا او بې امانه

چې کوهی گړنګ دې نه راتلل

له پامه

او هېڅ تراه دې زړه ته

نه لوېده د ماتې .

***

ولاړې ،

ولاړې،

دومره وړاندې . . .

په دې اند و په دې واند

چې د سوبې او برې

روستۍ مورچې دې

ښکلې کړې د ښاخ غروو د نیلې سووې .

***

هو ،

ته ولاړې ،

پر مخ ولاړې . . .

دومره لرې

چې څو بیرته راکتل دې ،

دویم کس درپسې نه وو...

او له ماتې سره لاره دې وه

د تېښتې هم ترلې . . .

ځکه مخکې تا پخپله

په لوی لاس ول

ترشا پلونه ټول له مخې نړولي !

۲۷-۲-۷۱

[داشعر د ملګرو ملتو په دوتر کې ډاکتر نجیب ته سپارل شوی وو]

## توره کېږدۍ

ما وېل،

چې ولېږدوم

دا خپله توره کېږدۍ ،

ـلکه ستوریوني بېړۍ ـ

د پلوشو په مراندو

هسکه د لمر تر وربوی .

خو د وختونو د تورتم لاسونو

مراندې کړې پرې

زما د تورې کېږدۍ

او کړه یې بیرته رانسکوره

د نیستۍ پر تورو خاورو باندې . . .

اوس ،

هسې ناست یم

لاس تر زنې لاندې

چې دغه توره سپځېدلې ،

ړنگه بڼګه را پرېوتې کېږدۍ

ځنګه يې ووبمه بيا له سره

او پر خاورين ځمکني غولي يې بيا

و درومه بيرته نېغه

د پخوا په شانې ؟

پېښور، ۱۲- ۳- ۷۱

## پناوړی

ما د شپې له تیاره ښاره

خزان زمولي وچ چمن ته

پنا راوړه . . .

اوس نو ،

ځارمه د لمر د راتلو لارې

چې د خپلو پلوشو په تنابو مې

کړې له ځانه سره هسک

له تورو خاورو د نیستۍ نه

نا لاسبرو هسکو هسکو

شنو ورشوو ته د عرش د لارویانو.

پېښور ۱۳ـ ۷ــ ۹۲

# د خوشال پر قبر

-۱-

سر راپورته کړه د ناز له درانه خوبه

د ویاړونو او برمونو

د تاریخ د مخسوریو

له بستره !

لکه باز له سر درو د وېلاړونو

شاوخواته د نظر ژی کړه راتېنګې

لږ څه ځیرشه د اېلم هسکو ستونځو ته ،

ته به وایې ،

د تعمید غسل په پار یې

د سرو وینو اباسین کې دي لمبلي!

-۲-

رالک څک دې کړه غوږونه

شور و زوږ د کابل سین ته

چې څه وایي اباسین ته ،

رنګین کړې یې له ځان سره په وینو

د سرغوڅو بلهاریانو .

چې د اس د سوو ګرد یې

لوراوه نه تا پرخپل مړستون باندې ،

نن سبا یې ستا پر سیمه

د مرګ ژوبلې ،

اور و وینو نا تارګه دی

چې یې کړېو د ویر ژلو

پښتونخوا پرسر اخېستې

ـله کنداره تر اټکه ـ

د فریاد لاسونه هسک یې

د زوی مړو ، بورو میندو ،

د پلار مړو ، بورو ورارو ،

د زدان د سپېڅلتیا وو

د لمرین مزدک پر لورې

ستا د هسک له رانه ذهنه!

-۳-

شپول د لړو د وهمونو

را چاپېر دی،

پر سینه دې د سپېڅلې پاکې خاورې

دي خپسې د ګرومونو را پربوتې

د مهال د خزاني سیلیو تورآسونه...

کړي غوټې پر سرو شېبو د پسرلي نن ،

دنیمزالو ګلمونګرو د ګلکخونو!

-۴-

راشه،

بیا دې د افغان په ننګ

هماغه تاریخي توره راواخله ،

مغولواله د پېړۍ ګوره چې څه کا ؟

چې مېوې یې وي

خوراک د شنو توتیانو،

پر هغه کابل مغول

ـلکه کارغان ـ

هسې یرغالي .

پر مال سر، ننګ و ناموس

د افغان بلوسي،

د وحشت غشي ي سکنهي

هډوپلې د ننګ مېړاني.

پر هېندارو يې د اوښکو اسوېليو

د برخليک کرښې ورکارې

او له خپلو بهېدلو سرکو وينو

يې ور اوبې کفنونه!

- ۵ -

په لمبو کې دغچ سوځي

لانده وچ له يوې مخې ،

لتارېږي ډېر بې لوره

افغاني هستي په پښو

د بربريت کې...

را پرېوځيد د برم خول

د «کرمنا» يې نور له سر ،

سر له تنې پر تورو خاورو...

نن پرون يې د تاريخ له دفتر

مخ پر پاکېدو دی

او زموللي چغرافيا يې

د نړۍ له نقشې ورو ورو محوه کېږي!!؟

اکوړه خټک، ۲۸ -۸ - ۹۲

# د ښکلا اپولو

وختمه ،

وختمه

له دې وینې وینې پڅې

د بلهارې بورې ځمکې

د سپېڅلې سپینو وریځو

درنګین خوب په بېړۍ کې

د اسمان د شینکي رود د شنو څپو

په باد بانونو ،

تېر له بریده د نړۍ د سپوږمۍ ستورو .

واوښتمه ،

واوښتمه

له ستونځونو د ناپایو شنو ورشوو

د جنت د ګلکڅونو ،

د سمسورو تلښیر ازو ګلبڼو له وربویونو .

والوتمه ،

والوتمه

د سپیڅلي پاکې مینې د سپینمرو پرښتو

په وزرونو ،

د لمرینو پلوشو په تنابونو . . .

پورته ،

پورته

د ښکلا د اپولو په بدرگه کې

له خاورین تیاره جهانه ،

یو نابوم ، ناپېژندویه ،

د رڼاوو او ځلاوو

یو تلپاتې او یو نوي ، یو رنگین

ښکلي جهان ته.

باړه گلۍ، ۲۹- ۷- ۹۲

## دواتڼونو خزان

هغه ګلبڼ ستا د ښايست د پسرلي

ګلونه نه سپړي نور

چې تاند ښېراز مې تل ساته

د خپلې مينې د ارمان په سرو سرامنو اوښکو .

نورې زما د مينه وړو سرو اسرو

له ميرو نه تېرېږي

ستا د موسکاوو د ګلونو

د عطرو قافلې

ته واچې هېڅ به بيا را ونه ټوکي

د واتڼونو د پانړېژ پرسينه

ستا د راتللو د ښکالو د شينيليو تخم .

نه ښکاري نور دا ستا د پلو خاپونه

ـ پر رېګستان د نهيلو زماـ

چې کړې مې وياړ

دښکلولو د لېچنو وير ژړلو ،

سرو لېمو په برخه . . .

راشه يو ځل زما د مينې

پر زمولږي چمن ،

لکه ووره د پسرلي د ښايست.

وور وه باران د لوړو پېرزوينې دې بيا !

زنځيري کلا ، ۷- ۱۱-۹۲

**خام بندونه**

رابهاندو،

راڅپاندو

-لکه نېز د مرغلرو -

د رڼوب له تلبهاندو سرچینونه ،

د واورین ږبرین غره

له کراړه ذهنه . . .

له ناپایو سر درو او اېلبندونو ،

تر ناپایو ګلکڅو ، پولو بریدونو .

را روان په غورځو پرځو ،

په مستۍ

په شنهار . . .

کلکې ګا ګرې ،

سپرخې پربښې ي له برمه

سوانېدلې ، سولېدلې

اوبرۍ وزمه

-تل ترتله ،

نه يې تم او نه ولاړه پېژندله .

تلې پر مخ او رانغاړل يې پړاوونه

هسکې ټېټې ،

کږې سمې . . .

لنډول يې بس ناپايه واټنو نه .

په تګلوري کې د ناز يې هر کلي ته

پسرليو د ښکلاوو غوړول

شنه شنه فرشونه.

د پښو ګرد لره يې تږې

تلښېرازې کروندې د تاندو هيلو

لورېينو

تلسمسور ګلبڼونه د موسکيو رنګينيو .

څرخېدل يې د غورځنګ هرې څپې نه

-په هر پله او په هر ګام کې-

د خوځون او د هستۍ

واړه څرخونه . . .

چې ناڅاپه ،

نابېره

له کوم لورې

د ناچېرې نشت اباد د تورستان

د تورو پولو له اخوانه

د بوږنونو تورتمونو د ځنګله

د څو ببرو تورو مړو

کړه را کرنج د سباوون د رڼا مزي

او راوېې ير غا لـله

د سپېدو د څپاند سیند

پر ساتندویو سنګرونو . . .

په دې خام اټکل چې ګوندې

کړي د تور وحشت په تورو

تېرو نوکو او خپړو

جوړ د کاز په وچو خاورو ،

لندو شګو

خام بندونه !! ؟

زنځيري کلا ، ۲۳-۱۱-۹۲